مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۱۱/۰۴

لنډۍ، د ټبتولو ستونزه

۴۰۷مه برخه

له مینځتوب مې ځان‌ساتلو
روغتون ته لاړم، پر ډاکټرۍ مینځ‌شومه

مینه دې اور دی، پرما پور دی
رنګ مې تک‌تور دی، غم دې زور دی مړ به شمه

خدایه خارج ملکونه وران کړې
په شته‌خاوند کې ښځې کونډې ناستې وینه

د لنډیو د دې برخې له‌پاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

له مرچکي نه تنده یاره
زه به په کومه بانه تا رضاکومه

له مینځتوب مې ځان‌ساتلو
روغتون ته لاړم، پر ډاکټرۍ مینځ‌شومه

مسافر ته شوې، خواره زه شوم
خواره دې مور شه چې سفر ته دې لیږینه

مینه دې اور دی، پرما پور دی
رنګ مې تک‌تور دی، غم دې زور دی مړ به شمه

خبر په خلاصو غوږو واوره
ورور دې په توت پورې ترم، تا تښتومه

خدایه خارج ملکونه وران کړې
په شته‌خاوند کې ښځې کونډې ناستې وینه

خبر یې کله ـ کله اخله
غُربت‌ځپلی یار دې ورک له مُلکه شونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خدای‌پامانې هم لوی عذاب دی
لالی چې تللی، زړه مې ځای ته نه‌راځینه

چې پیغله‌لور یې په کاله وي
د هغه کور سابه جواري مزه‌کوینه

چې غنم‌لوشي، دیدن کمشي
پلار ته دې وایه چې لوګري واچوینه

سترګې مې بیا سم لیدل نه‌کا
پرون مې ستا لارو ته دپر کتلي‌دینه

سوندې مې غوټې - غوټې پرې سوې
بې‌وفا یار په نیمه‌لار کې پرېښودمه

شوندې چیچې، رنګ یې الوتی
مسافر یار ته د سفرِ غوټه ټرینه

ښکلې په ښکلو پسې ژاړي
ښکلې چې چیرته ښکلې ویني، هلته ځینه

بدن مې ټول په اورکې وسو
که څوک ټودیږي، زما خوا له دې راځینه

بخت مې ویده، غم مې بیدار دی
د چا ازار دی، همیشه مې زوروینه

په نیمه‌شپه مې ازار وکه
تا ته مې نه که، یاره خپل‌ځان‌غرقومه

په نیمه‌لار کې سړی پرېږدي
ملا په پردو راوړو څنګه وټرمه

په وني‌دنګ لالی مې نه‌شته
چیرته چې دنګه ونه وینم، وژاړمه

ته لیونی، زه لیونی یم
چې لیوني سره یوځای‌شي، خوند کوینه

ټینګه مې مه نیسه جانانه
ټینګه مې مور ټرلې نه‌یم، زړه مې چوینه

یارانه مه‌کوئ کرارشئ
یوکال مې کړي، رنګ‌زیړی به ګرځیدمه

هندوستانی میړه به وکم
د پښتونخوا خاوره کې دریځل کوندې‌شومه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

يار مي په بنګو سترګي سري کړي
مور يې ناريکړي: زوی مي ستا له غمه مرينه

د بېلتانه عذاب دي سخت دی
بلېسکروټي مي په زړه نيولېدينه

د جانان غم دي پرزړه پروت دی
د تندېګونځي دي صفا وايي حالونه

ډاډ به پهخپله زړه ته ورکړم
په دې دله مالت کې نهشته ډاډګېرنه

راشه دا نښې دي درواخله
چې د يارې تمه دې سمه لنډهشينه

رنګ دې په نه خبره زيړشو
هله به څهکوې چې توله د بلشمه

زړګيه دواړه کاره نهشي
يا به تعليم کړي، يا د خوږجانان غمونه

زما دې ټول عمر په ډار کړ
لکه هوسې په مېرتون شپې تېرومه

زړګيه څه درباندې وکړم
نه دې بلا خوري، نه دې پيغلې قبلوينه

که باچا مړشي، باک يې نهشته
چې تعليم مړ شي، ټول هېواد به جاهل شينه

کوکريه مهراپسې غاپه
ستا د مېرمنې په سلا راغلېيمه

که ته راځې ببګا ته راشه
ابې مي نهشته، دادا ژرندې ته لېږمه

که چيرې لمر تادي ونهکړه
ګمان مي کېږي چې به وشي ديدنونه

غږ مي د غره پرلور نيولی
د شپيلۍ غږ دې ما ته تا رايادوينه

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:
http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ